هفته واره رساله



# د امیرِ اهلِسُنَّت فرامین

(د امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د مختلفو کتابونو نه اخستې شوي دي)

- د ایمان غلا کوونکي څه راځي؟
- د شیطان د ټولو نه لویه او خرابه وسله
- زړه مړ کوونکي یو کار
- د ناقبلیت د ټولو نه لویې دلیل

شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانيِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرامین (قسط: 2)[1]

**د خلیفۀ امیرِ اھلِسُنَّت دُعا:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرامین " ولولي یا واوري هغۀ ته پۀ دې فرامینو باندې د پوهې او پۀ دې باندې د عمل کولو توفیق ورعطا کړې، د هغۀ ظاهر او باطِن ښۀ کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه وبخښې۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عَوف رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے: یو ځل د نبیانو سردار، د مدینے تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر تشریف راوړلو او د یو باغ طرف ته روان شو نو زۀ هم ورپسې روان شوم، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو باغ ته داخِل شو او سر پۀ سجده شو، سجده یې دومره اوږده اوکړه چې زما سره ویره شوه چې هسې نۀ د سجدې پۀ حالت کښې الله پاک [د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] رُوح مبارک قبض کړے نۀ وي، نو زۀ وړاندې راغلم او پۀ غور سره مې وکتل، کله چې یې سر مبارک راپورته کړو نو وه یې فرمائیل: " اے عبد الرحمانه! څۀ وشو؟ " ما خپله ویره څرګنده کړه نو وه یې فرمائیل:

1 ... دا رساله د مدینة العلمیه د کتاب "اِحیاءُ العلوم (اردو) جلد: 1 " نه جوړه کړے شوې ده۔

” جبريلِ امين ما ته ووئيل: آيا تاسو دا خبره نۀ خوشحالوي چې الله پاک فرمائي چې څوک پۀ تا باندې دُرُودِ پاک ولولي زۀ به پۀ هغۀ باندې رحمت نازلووم او څوک چې پۀ تا باندې سلام رالېږي، زۀ به پۀ هغۀ باندې سلامتيا نازلووم-“ (مُسندِ امامِ احمد، 1/406، حديث:11662)

زمانے والے ستائیں، دُرودِ پاک پڑھو
جہاں کے غم جو رُلائیں، دُرودِ پاک پڑھو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کتاب ” د کفريه کلماتو پۀ باره کښې سوال جواب “ نه 28 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ څوک چې د دُنيا نه د اِيمان پۀ سلامت وړلو کښې کامياب شو هم هغه پۀ صحيح معنو کښې کامياب (دے) او څوک چې جَنَّت ومومي هُم هغه با مُراده دے- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص7)

﴿2﴾ هر چا له د ځان پۀ باره کښې دا وېره پکار ده چې هسې نۀ داسې وشي چې زما نه څۀ داسې خبره يا کار وشي د کوم پۀ وجه چې مَعَاذَ الله! اِيمان برباد شي او کړي ټول اعمال مې ضائع شي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص30)

﴿3﴾ د دِين پۀ باره کښې چې کومه خبره پۀ يقيني توګه معلومه وي هم هغه بيانول پکار دي، د عقل نه زيات کار اخستل د اِيمانياتو پۀ معامله

کښې خطرناک وي ولې چې پۀ تيندک خوړلو سره اِنسان بعضې وخت د کُفرياتو ژورې کندې ته غورځيږي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص33)

﴿4﴾ کوم خلق چې صرف دُنيا خپل هر څۀ ګڼي، مرګ هېروي او د نيکانو خلقو سره رِشته پريږدي هغوئي پۀ عامه توګه بے مُهارا[بے جلبه] وي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص117)

﴿5﴾ پرېشانه ګس له پکار دي چې د اللّٰه پاک پۀ رضا باندې راضي اوسي او د خپل ځان د پوهه کولو دپاره دې پۀ زړۀ زړۀ کښې وائي چې د کربلا پۀ شهيدانو او قېديانو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم چې کوم مصيبتونه راغلي وو هغه يقيناً چې پۀ ما باندې د راغلو مصيبتونو نه کروړونه چنده زيات وو خو هغوئي پۀ خندا خوشحالئ برداشت کړل او صبر يې اوکړو او د جَنَّت حقداران جوړ شول- زۀ چرته پۀ بے صبرئ کولو د اخرت د سعادت نه محرومه پاتې نۀ شم! (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص122، 123)

﴿6﴾ پۀ تکليف باندې پۀ صبر کولو اجر حاصلول پکار دي ځکه چې افتونه او بلاګاني، کفارۀ سَيِّات (يعني د ګناهونو کفاره) او د درجو د ترقئ سبب وي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص126)

﴿7﴾ اَمرَد (يعني ښکلے هلک) خو وور دے وور! د شهوت باوجود د اَمرَد نزدې والے، د هغۀ دوستي، د هغۀ پۀ غاړه کښې لاس اچول، د هغۀ سره تهوقې تهقالې کول، پۀ خپل مينځ کښې کُشتي، يو بل راښکل او ور غاړه وتل دا

کارونه انسان دوزخ ته هم غورځولے شي- د اَمرَد نه پهٔ لرې اوسېدو کښې خېر دے- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص156)

﴿8﴾ د دُنیا افتونه او مصیبتونه د مسلمان پهٔ حق کښې اکثر ډېر لوئې نِعمت وي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص162)

﴿9﴾ د ګاډو، بنګلو، دولت، صحت او د قِسما قِسم نعمتونو زیاتوالے پهٔ خپل ځان د لیدلو سره وېرېدل پکار دي چې هسې نۀ دا پهٔ دُنیا کښې د نیکو بدله نۀ وي او د غریبۍ، افتونو، بیمارو او د قِسما قِسم مصیبتونو سلسله پهٔ ځان باندې د لیدلو سره صبر کول او زړۀ غټ ساتل پکار دي چې کیدے شي دا د اخرت د راحتونو ذریعه وي- د الله پاک نه مونږ د دواړو جهانو خېرونه غواړو- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص163)

﴿10﴾ د مصیبتونو پهٔ وجه پهٔ الله پاک باندې اِعتراض کوونکے او ځان د همېشه د پاره دوزخ ته سپارونکے ګس ډېر لوئې بد نصیبه دے- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص165)

﴿11﴾ بغېر د ضرورت نه د مصیبت اِظهار کول ښه خبره نۀ ده- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص169)

﴿12﴾ صِرف هم د انبیاؤ او مُرسَلِین عَلَیہِمُ السَّلام، د صحابهٔ کرامو او تابعینو عَلیهِمُ الرِّضوَان او د اولیاءِ کامِلین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم اِمتحان نۀ اخستے کیږي، عام مسلمانان هم ازمائیلے کیږي او بیا پهٔ صبر کولو ښه ډېر اجر ګټي- (کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص172)

﴿13﴾ د عالِمِ دِین د عظمت شان ډېر لوئي دے د بے ادبئ نه بچ کېدل ډېر ضروري دي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص352)

﴿14﴾ د شريعت د احکامو په معامله کښې ژبه او زړۀ په قابو کښې د ساتلو ضرورت دے هسې نۀ چې داسې وشي چې معمولي شان بے خيالي مو د همېشه د پاره دوزخ ته ورسوي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص365)

﴿15﴾ د الله پاک په ورکړے شوي مال کښې د فرض کېدو په حالت کښې د زړۀ د خوشحالئ نه زکوٰة ادا کول پکار دي ځکه چې په دې کښې د دُنيا او د اخرت بے شمېره خېرونه دي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص383)

﴿16﴾ چرته چې د مال او دولت زور وي هلته غل راځي او چرته چې کامِل اِيمان وي هلته د اِيمان غل شېطان راځي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص426)

﴿17﴾ خراب صحبت خراب رنګ راوړي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص428)

﴿18﴾ د دُنيا بے اِنتها محبت، د حلالو او حرامو د پروا کولو نه بغېر د مال د ګټلو او د ګناهونو د زياتوالي سپېرۀ والے بعضې وخت د زړۀ نه د دِين او د اِيمان قدر او عزت اوباسي، په کُفر باندې د خاتمې ذريعه جوړېږي او همېشه همېشه د پاره د دوزخ لمبه شوي وور ته غورځوي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص456)

﴿19﴾ اللّٰهُ غفَّار چې کله په بخښلو راشي نو د لوئي نه لوئي ګنهګار بے حسابه بخښي او کله چې راګېرول وغواړي نو په ظاهره په وړه شان ګناه

باندې هم راګېرول کوي ځکه د الله ربُّ العزَّت د رحمت نه هيڅکله هم مايوسه کېدل نۀ دي پکار او د هغۀ د پټ تدبير نه بے وِېرې کېدل هم نۀ دي پکار دي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص483)

﴿20﴾ د چا د ګل پۀ شان ماشوم چې ناڅاپي وفات شي د دې پۀ غم هُم هغه پوهېږي، خو پۀ ژړا انګولا کولو، چغو سورو وهلو ماشوم واپس نۀ راځي، صبر کول پکار دي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص490)

﴿21﴾ د چا چې د اِيمان حفاظت خوښ وي هغۀ له پکار دي چې هغه د ټوقو ټقالو کېسټو، فلمونو، ډرامو، سندرو او سازونو، د مينې محبت او جاسوسي ناولو، ډائجسټو، د عشق او د فلسفو د افسانو او د اخبارونو د غير شرعي ليکونو وغيره خوا ته دې هم نۀ ورنزدې کيږي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص501)

﴿22﴾ هر يو اِسلامي ورور له پکار دي چې هغه ښۀ صحبت اِختيار کړي، صرف او صِرف د اهلسُنَّت علمائے کرامو مضمونونه او د هغوئي کتابونه دې لولي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص501)

﴿23﴾ د ډېرو خبرو کوونکي، غير سنجيده او د ټوقو مسخرو د عادت لرونکي د خُلې نه د فضولياتو سره سره د کفرياتو د وتو هم ډېره خطره ده- الله ربُّ العزَّت دې زمونږ د سنجيدګۍ او د کمو خبرو کولو سعادت نصيب کړي- (کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص507)

﴿24﴾ هر يو عمل د ښو ښو نيتونو سره صرف د رَبّ لَم يَزَل د رضا د پاره کول پکار دي- (کفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص534)

﴿25﴾ د هر چا سره د هغهٔ د ظَرف مطابق خبرې کول پکار دي ولې چې ژورې خبرې هغه پهٔ اندېښنه کښې اچوي بلکې بے لارې کولے یې هم شي- (کفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص558)

﴿26﴾ ژبه ډېره پهٔ اِحتياط خوزول ضروري ده چې کله دا د قېنچۍ پهٔ شان خوزېږي نو د دې نه د کفرياتو پهٔ وتو کښې وخت نهٔ لګي- (کفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص598)

﴿27﴾ مونږ له د شېطان د ګزار پهٔ ناکامه کولو هر وخت د با عمله عالمانو سره تعلق ساتل پکار دي د پاره د دې چې دِيني معلومات کيږي ګنې هسې نهٔ چې شېطان مو د اِيمان نه پهٔ خلاصولو کښې کامياب شي- (کفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص659)

﴿28﴾ د علمائے رَبَّانِيِّين پهٔ دربارونو کښې حاضري د توبې د توفيق نصيب کېدو او د اِيمان د حفاظت د پاره د فکر ذريعه جوړېدے شي- (کفريه کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص662)

## د کتاب " مَدَني پنج سوره " نه 4 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ پهٔ خپلو نېکو او جائزو کارونو کښې د برکت داخلولو د پاره مونږ له بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ضرور لوستل پکار دي- (مدنی پنج سورہ، ص3)

﴾2﴿ دُعا خو هېڅ ضائع کیږي نۀ، د دې که چرې پۀ دُنیا کښې اثر ظاهر هم نۀ شي نو پۀ اخرت کښې به اَجر او ثواب مېلاوېږي ځکه پۀ دُعا کښې ناراستي کول مناسب نۀ دي- (مدنی پنج سورہ، ص184)

﴾3﴿ د فرض روژو نه علاوه د نفلي روژو عادت هم جوړول پکار دي چې پۀ دې کښې د دُنیا او د اخرت بے شمېره فائدې دي- (مدنی پنج سورہ، ص293)

﴾4﴿ د چا مور او پلار یا پۀ هغوئي کښې یو وفات شو نو هغۀ له پکار دي چې د هغوئي د طرف نه غفلت نۀ کوي، د هغوئي قبرونو ته هم حاضري کوي او اِیصالِ ثواب هم کوي- (مدنی پنج سورہ، ص394)

## د کتاب " غیبت کی تباہ کاریاں " نه 15 مَدَني ګلونه

﴾1﴿ د غیبتونو او د ګناهونو نه د ډکو خبرو سره تعلق پرېږدۀ او د الله پاک د یادونو، د خوږ ښکلي مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعتونو سره تعلق پیدا کړۀ- د ښه ډېر دُرُود او سلام د پاره ژبه اِستعمال کړۀ او د قرآنِ پاک ښه ډېر تِلاوت کوۀ او د ثواب ډېرې خزانې حاصلې کړۀ- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص37)

﴾2﴿ د غیبت پۀ تباهۍ کښې یوه دا هم ده چې د دې پۀ سپېرۀ والې سره د عبادت نُورانیت ختمېږي (غیبت کی تباہ کاریاں، ص38)

﴾3﴿ عام او خاص هر چا له پکار دي چې پۀ ډېر اِحتیاط سره ژوند کوي د داسې مباح عملونو او کارونو نه هم ځان ساتي چې د فتحِ بابِ غیبت یعنې د غیبت د دروازې د پرانستو ذریعه جوړېږي- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص83)

﴿4﴾ د شَماتَت (يعنې د مسلمان پۀ تکليف باندې د خوشحالئ د اِظهار) نه ډډه اوکړئ- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص119)

﴿5﴾ کله چې يو مسلمان د يوې ګناه نه توبه کړي نو بيا د هغه ګناه پۀ باره کښې هغه شرمول نۀ دي پکار- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص129)

﴿6﴾ بے ځايه د خبرو کولو عادت اِنسان دې ته جوړوي چې د نۀ کولو خبرې هم اوکړي او د ډېرو ستونزو سره يــې هم مخ کړي- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص129)

﴿7﴾ مَعَاذَ الله! صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ته کنځل کول ګناه، ډېره سخته ګناه، قطعي حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص196)

﴿8﴾ ژبه اګر که پۀ ظاهره د غوښې يو وړوکے شان پوټے دے خو دا د خُدائے رحمان ډېر عظيم الشان نِعمت دے- د دې نِعمت پۀ قدر خو کېدے شي چې چاړا پوهېږي- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص222)

﴿9﴾ د ژبې صحيح اِستعمال جَنَّت ته داخلول او غلط اِستعمال انسان دوزخ ته رسولے شي- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص222)

﴿10﴾ د نېکانو خلقو سره پۀ دُعا کښې شرکت ډېر لوئي سعادت دے- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص258)

﴿11﴾ د يو مسلمان پۀ باره کښې سمدستي غلطه رائے نۀ دي جوړول پکار، مونږ ته څۀ پته ده چې د الله پاک پۀ دربار کښې د هغۀ څۀ مقام

دے- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص345)

﴾12﴿ همېشه حلال رزق کټل، [پخپله] خوړل او [په نورو] خوړل پکار دي- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص379)

﴾13﴿ اِنفرادي [يواځې] کوشش د دِيني کارونو جان دے- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص458)

﴾14﴿ د اِنفرادي کوشش روح ملنساري[عاجزي] ده- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص458)

﴾15﴿ د اِنفرادي کوشش والا د پاره د مُخاطَب (يعنې د چا سره چې خبرې کوي د هغهٔ) نفسيات معلومول ډېر ضروري دي- (غیبت کی تباہ کاریاں، ص458)

## د کتاب " پردے کے بارے میں سوال جواب " نه 7 مَدَني ګلونه

﴾1﴿ خاوَند د خپلې ښځې، پلار د خپلو بچو او هر ګس د خپلو خپلو ماتحتو يو قِسم له " حاکِم " دے او د هر حاکِم نه به د هغهٔ د ماتحتو په باره کښې د قيامت په ورځ پوښتنه کولے شي-

(پردے کے بارے میں سوال جواب، ص61)

﴾2﴿ د شېطان سره د نارينؤ د بربادولو د پاره د ټولو نه لويه وسله او خرابه وسله " زنانه " ده- (پردے کے بارے میں سوال جواب، ص97)

﴾3﴿ ښځې او خاوَند له پکار دي چې په خپل مينځ کښې په روادرئ او محبت سره اوسيږي، دواړه دې د يو بل د حقونو خيال ساتي او هغه دې ادا کوي هم- (پردے کے بارے میں سوال جواب، ص118)

﴿4﴾ د مسلمانانو په ترقۍ کښې پرده نۀ بلکې په حقيقت کښې بے پردګي خنډ [يعنې رکاوټ] جوړ شوے دے- (پردے کے بارے میں سوال جواب، ص152)

﴿5﴾ شرعي پرده (يعنې اِسلامي پرده) دې نۀ پرېښودلے کيږي ولې چې دا عظيمه نېکي ده او بے پردګي سخته ګناه (ده)- (پردے کے بارے میں سوال جواب، ص198)

﴿6﴾ د ځان نه په کمه مرتبه لرونکي ګس باندې دُعا کول د انبياؤ او مُرسَلِين علَيهِمُ السَّلام او د دِين د بزرګانو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم طريقه ده- (پردے کے بارے میں سوال جواب، ص305)

﴿7﴾ د زړۀ د اِخلاصه غوښتلے شوې دعاګانې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مهربانۍ سره قبليږي، خواستونه اوريدلے کيږي او مُرادونه پوره کيږي- (پردے کے بارے میں سوال جواب، ص306)

## د کتاب "نماز کے احکام" نه 3 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ مونږ له په سُنَّتو باندې عمل د طِبي فائدو موندلو د پاره نۀ بلکې صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره کول پکار دي- (نماز کے احکام، ص93)

﴿2﴾ مسلمانانو له د کور په غير واجبي بهترۍ (يعنې د فضول ښکلا وغيره) په ځائے د اخرت د حقيقي غوره والي (يعنې د اخرت په ښۀ کولو) نظر ساتل پکار دي- (نماز کے احکام، ص114)

﴿3﴾ هغه مسلمان ډير بد نصيبه دے کوم له چې صحيح قرآن شريف وئيل نۀ ورځي- (نماز کے احکام، ص211)

## د کتاب ” فيضانِ نماز “ نه 13 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ کله چې څهٔ مصيبت راشي يا بلا نازله شي يا څهٔ نازکه معامله راپېښه شي نو فوراً د نـمونځ سهاره اخستل پـکار دي- (فيضان نماز، ص25)

﴿2﴾ الله پاک د خپلو نېکانو بندګانو پهٔ برکت د خلقو نه افتونه او عذابونه لرې کوي- (فيضان نماز، ص53)

﴿3﴾ که کېدے شي نو د ځائے پهٔ بدلولو را بدلولو سره نـمونځ کول پـکار دي، پهٔ کوم کوم ځائے کښې چې نـمونځ کوئ ذِکر او دُرُود لولئ هٰغه ټول ځايونه به د قيامت پهٔ ورځ ګواهي ورکوي- (فيضان نماز، ص66)

﴿4﴾ بے شکه نـمونځ ډېر عظيم الشان عبادت دے د دې د برکت نه صرف او صرف هُم بد نصيبه خلق محرومه پاتې کېدے شي- (فيضان نماز، ص71)

﴿5﴾ اِنسان له پـکار دي چې د هغهٔ نه څومره کېدے شي خپلې نېکۍ دې پټې ساتي- خپل نفلونه، روژې، نـمونځ، حج او عمره، صدقه او خېرات، دِيني خدمتونه وغېره بغېر د څهٔ وجهې نه خلقو ته بيانول نهٔ دي پـکار- (فيضان نماز، ص79)

﴿6﴾ کله چې د خوشحالۍ خبر مېلاؤ شي نو دوه رکعته شُکرانه نـمونځ ادا کول يا د شُکر سجده کول پـکار دي- (فيضان نماز، ص273)

﴿7﴾ نـمونځ پهٔ اِطمينان او سکون سره کول پـکار دي د پاره د دې چې د قبلېدو منزل ته ورسېږي- (فيضان نماز، ص322)

﴿8﴾ که چرې تاسو په خُشُوع او خُضُوع سره نـمونځونه کول غواړئ نو د ټولو نه وړومبے د ګناهونو نه پرهيز اوکړئ- (فيضانِ نماز، ص341)

﴿9﴾ په نـمونځ کښې خشوع پيدا کولو د پاره چې کوم څيز هم په خشوع کښې خنډ جوړيږي په ممکن حالت کښې هغه لرې کړئ- (فيضانِ نماز، ص417)

﴿10﴾ ډيره خندا په غفلت کښې اچوونکے غير مناسبه او د زړۀ مړ کولو والا کار دے- (فيضانِ نماز، ص347)

﴿11﴾ د هديرې شاړه د دُنيا د عشرتونو او د ټولو راحتونو د بربادېدو خبر ورکوي- (فيضانِ نماز، ص477)

﴿12﴾ د الله پاک د نېکانو بندګانو د نېکو، د هغوئي د صحبتونو او د هغوئي د دعاګانو نه نورو ته فائده رسېږي- (فيضانِ نماز، ص488)

﴿13﴾ بے شکه جَنَّت د الله ربُّ العِزت ډير لوئي نِعمت دے مونږ ټولو له د دې د موندلو ارمان کول او د دې په طلب کښې ښه ډير عبادت کول او د نبي رحمت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت سره په جَنَّتُ الفردوس کښې د داخلېدو ښه ډير اُمېد ساتل پکار دي- (فيضانِ نماز، ص539)

## د کتاب " بياناتِ عطاريه (جلد: 1) " نه 16 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ څوک چې د دُنيا په نِعمت پورې زړۀ تړي هغه خامخا د غفلت ښکار کيږي- (رساله: غفلت، ص19۔ بياناتِ عطّاريه، 19/1)

﴿2﴾ غفلت بنده د رَبُّ العِزَّت نه لرې کوي- (رساله: غفلت، ص19۔ بیاناتِ عطّاریه، 19/1)

﴿3﴾ د دُنيا هره اسانئ کښې ازمېښت دے- (رساله: غفلت، ص10۔ بیاناتِ عطّاریه، 75/1)

﴿4﴾ د چا چې د دُنيا د مال د مېلاؤېدو سره سره د الله پاک په لار ه کښې د خرچ کولو جذبه هم نصيب شوه هغه سعادت مند شو- (رساله: غفلت، ص24۔ بیاناتِ عطّاریه، 89/1)

﴿5﴾ د مال او دولت محبت اِنسان د خوارئ او ذِلت عَمِيق (يعني ژورې) کندې ته غورځوي- (رساله: غفلت، ص25۔ بیاناتِ عطّاریه، 90/1)

﴿6﴾ عقل مند هغه دے کوم چې د مرګ نه مخکښې د مرګ تياري اوکړي او د نېکو ذخيره جمع کړي- (رساله: غفلت، ص11۔ بیاناتِ عطّاریه، 116/1)

﴿7﴾ د دُنيا او د اخرت د پرېشانو حل د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فرمانبردارئ کښې دے- (رساله: غفلت، ص17۔ بیاناتِ عطّاریه، 142/1)

﴿8﴾ د مسلمان هر کار د الله او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحالئ د پاره کول پکار دي- (رساله: غفلت، ص16۔ بیاناتِ عطّاریه، 141/1)

﴿9﴾ همېشه د جمعې سره د نمونځ بندوبست کوئ هيڅکله هم بے خيالي مهٔ کوئ- (رساله: کفن چوروں کے انکشافات، ص24۔ بیاناتِ عطّاریه، 146/1)

﴿10﴾ چا له هم په خپل عِلم يا عبادت باندې ناز نهٔ دي کول پکار- (رساله: برے خاتمے کے اسباب، ص18۔ بیاناتِ عطّاریه، 169/1)

﴾11﴿ د اِيمان د حفاظت د دُعا نه غفلت نهٔ دي کول پکار- (رساله: مردے کے صدمے، ص23۔ بیاناتِ عطّاریه، 234/1)

﴾12﴿ پهٔ شرطونو باندې د پوره پير نه پهٔ بيعت کولو د هغهٔ پهٔ مستقل دعاګانو کښې راتلل پکار دي- (رساله: مردے کے صدمے، ص23۔ بیاناتِ عطّاریه، 234/1)

﴾13﴿ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم او د اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم محبت او نسبت هم د قبر د عذاب نه بچ کول کوي- (رساله: مردے کے صدمے، ص26۔ بیاناتِ عطّاریه، 237/1)

﴾14﴿ پهٔ دولت دوائي خو مېلاوېدے شي خو شِفا اخستے کېدے نهٔ شي- (رساله: قیامت کا امتحان، ص19۔ بیاناتِ عطّاریه، 331/1)

﴾15﴿ د دُنيا دولت خپل هر څهٔ ګڼل عقل مندي نهٔ ده- (رساله: قیامت کا امتحان، ص25۔ بیاناتِ عطّاریه، 337/1)

﴾16﴿ د حلال رزق پهٔ طلب کښې هيڅکله هم داسې مهٔ مصروفه کېږئ چې د نمونځونو نه غافله شئ - (رساله: قیامت کا امتحان، ص25۔ بیاناتِ عطّاریه، 337/1)

## د کتاب " بياناتِ عطاريه (جلد: 2) " نه 21 مَدَني ګلونه

﴾1﴿ د کومو خوش قِسمتو چې مور او پلار ژوندي دي هغوئي له پکار دي چې روزانه کم از کم يو ځل د هغوئي ښپې ضرور ښکلوي- (رساله: سمندری گنبد، ص5۔ بیاناتِ عطّاریه، 24/2)

﴾2﴿ د مور يا پلار پهٔ اواز باندې هيڅکله هم خپل اواز مهٔ اوچتوئ- (رساله: سمندری گنبد، ص5۔ بیاناتِ عطّاریه، 24/2، 25)

﴿3﴾ د مور او پلار حقونه ډېر زيات دي د دې نه بَرِيُّ الذِّمه کېدل ممکن نۀ دي- (رساله: سمندری گنبد، ص12۔ بیاناتِ عطاریه، 2/31)

﴿4﴾ هُغه کَس ډېر خوش قِسمته دے کوم چې مور او پلار خوشحاله ساتي- (رساله: سمندری گنبد، ص15۔ بیاناتِ عطاریه، 2/34)

﴿5﴾ هر چا له پکار دي چې د خپلو ګاؤنډيانو سره ښۀ سلوک کوي او بغېر د څۀ شرعي مصلَحت نه د هغوئي پۀ اِحترام کښې کمے نۀ راولي- (رساله: احترامِ مسلم، ص17۔ بیاناتِ عطاریه، 2/69)

﴿6﴾ د اِحترام مسلم تقاضا دا ده چې پۀ هر حال کښې د هر مسلمان د ټولو حقونو خيال وساتلے شي- (رساله: احترامِ مسلم، ص26۔ بیاناتِ عطاریه، 2/78)

﴿7﴾ کله چې اِنسان خپل ځان " اهم " نۀ ګڼي نو هغۀ ته د چا د نۀ " پوښتلو " غم هم نۀ رسېږي- (رساله: شیطان کے بعض ہتھیار، ص14۔ بیاناتِ عطاریه، 2/13)

﴿8﴾ مسلمان د بَل مسلمان حفاظت کوونکے او غمخوار وي- (رساله: ظلم کا انجام، ص25۔ بیاناتِ عطاریه، 2/196)

﴿9﴾ جنګ جګړې کول د مسلمان طريقه نۀ ده- (رساله: ظلم کا انجام، ص25۔ بیاناتِ عطاریه، 2/196)

﴿10﴾ د چا سره چې خلق ډېر منسلک [يعني واسطه ډېره]وي د هغۀ نه د بندګانو د حقونو وهلے کېدلو اِمکان هم زيات وي- (رساله: ظلم کا انجام، ص52۔ بیاناتِ عطاریه، 2/223)

﴿11﴾ د مسلمانانو د زړهٔ ساتنې پهٔ نیت د کشرانو سره د شفقت او د مشرانو سره د ادب لــهجه ساتئ- (رساله: ظلم کا انجام، ص59۔ بیاناتِ عطّاریه، 230/2)

﴿12﴾ د خبرو کولو پهٔ وخت بلکې پهٔ یو حالت کښې هم پهٔ کړس کړس خندا مهٔ کوئ ولې چې سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم پهٔ کړس کړس نهٔ دي خاندلي- (رساله: ظلم کا انجام، ص60۔ بیانات عطّاریه، 231/2)

﴿13﴾ همېشه دې د مُخاطَب د ظرف او د هغهٔ د نفسیانو مطابق خبرې اوکړے شي- (رساله: ظلم کا انجام، ص62۔ بیاناتِ عطّاریه، 233/2)

﴿14﴾ د بد زبانۍ او د بے حیایۍ د خبرو نه هر وخت ډېه کوئ- (رساله: ظلم کا انجام، ص62۔ بیاناتِ عطّاریه، 233/2)

﴿15﴾ د حیا پهٔ نشونما[روزنه پالنه] کښې د ماحول او د تربیت ډېر اثر دے- (رساله: باحیا نوجوان، ص12۔ بیاناتِ عطّاریه، 326/2)

﴿16﴾ حیا چې خومره ډېره وي نو هُغه همره ښه ده- (رساله: باحیا نوجوان، ص15۔ بیاناتِ عطّاریه، 329/2)

﴿17﴾ حیا دار همېشه با ادبه هم وي- (رساله: باحیا نوجوان، ص58۔ بیاناتِ عطّاریه، 372/2)

﴿18﴾ حیا دارې زنانه که هر څهٔ وشي بے پردګي نهٔ کوي- (رساله: زخمی سانپ، ص8۔ بیاناتِ عطّاریه، 431/2)

﴿19﴾ حقیقت خو دا دے چې د اِنسان ظاهر د هغهٔ د زړهٔ نمائنده دے- (رساله: اسلامی پردہ، ص9۔ بیاناتِ عطّاریه، 452/2)

﴿20﴾ پهٔ پرده کولو کښې چې څومره تکليفونه وي هُغه همره به ثواب هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زيات مېلاؤېږي- (رساله: اسلامی پردہ، ص17۔ بیاناتِ عطّاریه ،460/2)

﴿21﴾ د عزت مندې او حيا دارې زنانه د پاره د هغې عِصمَت (يعنې پاک والے) د ټولو نه قيمتي دے- (رساله: اسلامی پردہ، ص23۔ بیاناتِ عطّاریه ،466/2)

## د کتاب " بياناتِ عطاريه (جلد: 3) " نه 15 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ زمونږ د ژوند هره ګړۍ قيمتي ملغلرې دي که چرې مونږ دا بے کاره ضائع کړې نو د ارمان او پښېمانتيا نه علاوه به هيڅ لاس ته نهٔ راځي- (رساله: انمول ہیرے، ص3۔ بیاناتِ عطّاریه ،19/3)

﴿2﴾ د ژوند چې کومه ورځ نصيب شوه د هغې پهٔ غنيمت ګڼلو چې څومره کېدے شي پهٔ هغې کښې که ښه ښه کارونه اوکړے شي نو ښه دي- (رساله: انمول ہیرے، ص7۔ بیاناتِ عطّاریه ،23/3)

﴿3﴾ زمونږ سره که د دې خبرې اِحساس وي او که نهٔ وي خو دا حقيقت دے چې مونږ د خپل مرګ د منزل طرف ته ډېر پهٔ تېزۍ سره روان يو- (رساله: انمول ہیرے، ص7۔ بیاناتِ عطّاریه ،23/3)

﴿4﴾ کامياب او عقل مند هغه دے کوم چې نور پهٔ مرګ ويني نو خپل مرګ رايادوي او د قبر او د اخرت تيارے کوي- (رساله: ویران محل، ص11۔ بیاناتِ عطّاریه ،54/3)

﴿5﴾ يوه نېکي هم پهٔ وړه ګڼلو سره پرېښودل نهٔ ده پکار څهٔ پته لګي چې هُغه وړه پهٔ نظر راتلونکې نېکي د اللّٰه پاک پهٔ دربار کښې قبوله شي- (رساله: نہر کی صدائیں، ص8۔ بیاناتِ عطّاریه ،76/3)

﴿6﴾ خوندور خوراکونه په خوند خوند خوړونکو ته د دوزخ خطرناک خوراکونه هېرول نۀ دي پکار- (رساله: نهر کی صدائیں، ص17۔ بیاناتِ عطّاریه، 85/3)

﴿7﴾ د تپوس پۀ موقع باندې د مريض يا د غم زپلي ګس پۀ مخکښې کښې پۀ خپل مخ باندې د درد او غم حالت ښکاره کړئ- (رساله: نهر کی صدائیں، ص21۔ بیاناتِ عطّاریه، 89/3)

﴿8﴾ د مريض د کور والؤ سره هم د خوا خوږئ اظهار کوئ او څۀ خِدمت يا مرسته چې کولے شئ وه يې کړئ- (رساله: نهر کی صدائیں، ص21۔ بیاناتِ عطّاریه، 89/3)

﴿9﴾ د مريض خوا له لاړ شئ او د هغۀ د طبيعت پوښتنه اوکړئ او د هغۀ د پاره د صحت او د خير دُعا اوکړئ- (رساله: نهر کی صدائیں، ص21۔ بیاناتِ عطّاریه، 89/3)

﴿10﴾ پۀ مريض باندې د ځان د پاره دُعا اوکړئ ولې چې د مريض دُعا نۀ رد کېږي- (رساله: نهر کی صدائیں، ص21۔ بیاناتِ عطّاریه، 89/3)

﴿11﴾ پۀ دولت باندې دوستان خو مېلاؤېدے شي خو وفا نۀ شي مېلاؤېدے- (رساله: پُراسرار بھکاری، ص14۔ بیاناتِ عطّاریه، 196/3)

﴿12﴾ دولت د هلاکت سبب کېدے شي خو د دې پۀ ذريعه مرګ نۀ شي منع کېدے- (رساله: پُراسرار بھکاری، ص14۔ بیاناتِ عطّاریه، 196/3)


﴿13﴾ د دولت سره شهرت حاصلېدے شي خو عزت نۀ شي حاصلېدے- (رساله: پُراسرار بھکاری، ص14۔ بیاناتِ عطّاریه، 196/3)

﴿14﴾ خپل ځان قابِل ګڼل دا د نا قابليت د ټولو نه لوئي دليل دے۔ (رساله: کالے بچھو، ص8۔ بیاناتِ عطّاریه، 223/3)

﴿15﴾ څوک چې خپل ځان د شېطان نه محفوظه وګڼي بس پوهه شئ چې پهٔ هغهٔ باندې شېطان کامياب شوے۔

(رساله: قومِ لوط کی تباہ کاریاں، ص24۔ بیاناتِ عطّاریه، 389/3)

## د راتلونکې هفتې رساله





فیضان مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډي کراچي

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net